# تفکر، تدبر او تذکر؛ د اسلامي امت د ورک شوي حکمت یوه برخه



یوه ورځ یوه عرب خپل اوښ ورک کړی و. د عربو جزیرې په ګرمه دښته او صحرا کې یې سرګردانه یوې بلې خوا ته منډې وهلې او خپل اوښ یې لټاوه. یوه لاروي ترې وپوښتل: په څه پسې سرګردانه یې؟ ده وویل: اوښ مې ورک کړی. لاروي وپوښتل: اوښ دې په یوه سترګه اعور (ړوند) نه و؟ ویې ویل: هو، ړوند و! بیا یې وپوښتل: په یوه پښه اعرج (ګوډ) نه و؟ ویې ویل: هو ګوډ و. لاروي دریم ځل وپوښتل: ایا اوښ دې ابتر (لکۍ غوڅی) نه و؟ ویې ویل: هو لکۍ غوڅی و؟

د اوښ خاوند ولاړ، له دغه سړي یې شکایت وکړ او ادعا یې وکړه، چې اوښ یې همدغه لاروي غلا کړی. کله چې محکمه دایره شوه او قاضي له مدعي وغوښتل، چې خپله ادعا وړاندې کړي، د اوښ خاوند هغه شواهد چې له لاروي یې اقرار اخیستی و، قاضي ته وړاندې کړل. تورن د اوښ د غلا له توره انکار وکړ او ویې ویل: والله چې ما ستا اوښ نه دی غلا کړی. نوموړي هغه شواهد چې د اوښ خاوند ته یې وړاندې کړي وو، په لاندې ډول یو په بل پسې تشریح کړل:

کله مې چې په لاره ولیدل چې اوښ د لارې له یوه طرفه خوړلي او بل لور ته یې هېڅ پام نه دی کړی، دې پایلې ته ورسېدم، چې دا اوښ چې له دغه مسیره تېر شوی، په یوه سترګه ړوند دی. کله مې چې ولیدل، چې د دغه اوښ پچې په لاره کې ګډوډې او تیت وپرک دي، نتیجه مې واخیسته چې اوښ لکۍ غوڅی دی او کله مې چې ولیدل، چې د اوښ د پښې پله د لارې په یوه خوا کې پر ځمکه فشار راوړی او په بله خوا کې یې مازې له ځمکې سره تماس پیدا کړی، درک مې کړه چې دغه اوښ ګوډ هم دی.

په هغه خاوره کې چې تاکل شوې وه، د بشریت په تاریخ کې وروستی ځل وحی نازله شي او الهي رسالت هم د قیامت تر ورځې هلته پای ته ورسېږي، د هغې خاورې اوسېدونکو ځینې خاصې ځانګړنې درلودې، چې دوی یې د هغه مهال له نورو قومونو بېلول. دغو ځانګړنو د یوه رهبر امت د روزنې لپاره خورا اهمیت درلود او الله متعال د خپلې قضا پر اساس دا ډول قوم د دغسې ستر مسوولیت لپاره انتخاب کړی و. د دوی یوه ځانګړنه قَصاص (کیسه جوړول یا روایت کول) دي. عربانو په دښته، صحرا، غره او بیابان کې شپونتوب، تجارت او ژوند کاوه، په هر ډګر کې یې

په همدغه چاپېريال پورې تړلو مسايلو کې بېلابېل متخصصين درلودل، چې په هغو مواردو کې يې يوازې تعقل او تفکر ته مخه کوله او دومره تخصص يې درلود، چې په واقعيت کې له څېړنې وروسته يې نظر حق ته رسېده.

د اثارو څارنه او همدارنگه د پلونو (قدمونو) او د لارې د نښو تعقيب هغه دلايل وو، چې په بېلابېلو برخو او د اړتيا پر مهال يې ترې استنباط کاوه، تر دې چې د يوې ښځې او نارينه، د بېلابېلو حيواناتو د تگ نښې او پلونه يې يو له بله توپيرول.

د همدغه تاريخي واقعيت پر اساس الله سبحانه وتعالی هم د عربو خلکو ته په هغه وخت کې په وحی کې د خپل پيغام يوه ستره برخه د تېرو قومونو په اړه په مختلفو کيسو کې ځانگړې کړې ده، تر څو په دغو کيسو کې تفکر، تدبر او تذکر وکړي. دغو کيسو د اصحابو کرامو رضوان الله عليهم اجمعين د تفکر، تدبر او تذکر مهارتونه دومره پراخ او پياوړي کړل، چې وتوانېدل د الهي پيغام دقيقې موخې په عقلي او شرعي توگه درک کړي، تدبر پکې وکړي او د اړتيا پر مهال، يو بل ته پرې تذکر وکړي.

الله سبحانه وتعالی د بشريت د ستر لارښود رسول الله صلی الله عليه وسلم په وسيله دا درې ځانگړنې د اسلامي امت خورا غوره دورې (اصحاب کرامو رضی الله عنهم اجمعين) ته ورزده کړې، بيا دوی تابعينو او هغوی تبع تابعينو ته ورو‌ښودې، تر دې چې د امت چارواکي او رعيت هم له دغو حکمتونو برخمن شول. مگر موږ اوس په داسې وخت کې ژوند کوو، چې اسلامي امت له سخت انحطاط او وروسته پاتې والي سره مخ دی او د بيدارۍ درې واړه ځانگړنې (تفکر، تدبر او تذکر) يې د ژوند په زياترو ډگرونو کې له لاسه ورکړې دي؛ حال دا چې دا درې ځانگړنې مستقيمې د امت له دنيوي او اخروي برخليک سره کلک تړاو لري. ځکه انسان د چارو د غوره سرپرستۍ په موخه د تفکر له لارې دقيق فهم ته رسيږي، د تدبر له لارې د چارو د پايلو غوره ارزونه کوي او د ځان او نورو د انحرافاتو د سمولو په موخه له تذکره کار اخلي.

که څه هم تفکر، تدبر او تذکر له هغو بنسټيزو مفاهيمو څخه دي، چې د بشريت د ژوند په ټولو ډگرونو کې فوق العاده د کارونې ځای لري؛ مگر زه په دې مقاله کې يوازې په فکري-سياسي ډگر کې د دغو درېيو مفاهيمو په ځانگړنو او خپلمنځي اړيکو بحث کوم. د اسلامي فکر له ليدلورې د دغو مفاهيمو روښانتيا او په فکري-سياسي ډگر کې د هغو بيا راژوندي کول، انسان د ژوند په نورو ډگرونو کې هم راويښولی شي. حال دا چې اوسني اسلامي امت دغه درې واړه مفاهيم؛ تفکر، تدبر او تذکر تر ډېره له لاسه ورکړي. نو له هرڅه مخکې لومړی دا درې واړه اصطلاح گانې د اسلامي ثقافت له ليدلوري تعريفوو:

**تفکر:** د تفکير مطلق تعريف ته په پام؛ هغې پروسې ته ويل کيږي چې انسان د مخکينيو معلوماتو په رڼا کې محسوس واقعيت د پنځه گونو حواسو په وسيله احساسوي او د سالم دماغ په وسيله يې درک، تجزيه او تحليلوي. په همدغه ترتيب انسان د ژوند په هر ډگر کې د دلايلو، نښو او د يوې پېښې د واقعيت پر اساس د مخکينيو معلوماتو په رڼا کې، چې کله له وحی او کله هم له بشري تجربې سرچينه اخلي، تفکر کولی شي او هر څومره چې واقعيت کره او هر اړخيز مطالعه کړي، له خپلو مخکينيو معلوماتو سره يې دقيق تړاو تامين کړی شي؛ سم تفکر به ترسره کړي. لکه څنگه چې الله سبحانه وتعالی په هغو کيسو کې، چې په قرآن کې يې د انسان د تفکر لپاره راوړې، داسې فرمايي:

﴿وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِي آتَيْنَاهُ آيَاتِنَا فَانسَلَخَ مِنْهَا فَأَتْبَعَهُ الشَّيْطَانُ فَكَانَ مِنَ الْغَاوِينَ﴾ [اعراف: ۱۷۵]

*دوی ته د هغه چا کيسه ولوله، چې خپل آيتونه مو ور زده کړل؛ خو ده مخ ترې واړاوه، شيطان ورپسې شو او گمراه شو.*

﴿وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَاهُ بِهَا وَلَٰكِنَّهُ أَخْلَدَ إِلَى الْأَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوَاهُ ۚ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ إِن تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَث ۚ ذَّٰلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا ۚ فَاقْصُصِ الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ﴾ [اعراف: ۱۷۶]

*که مو غوښتی، د هغه مقام مو په دغو آیتونو (علومو او پوهو) لوړاوه؛ (خو اجبار زموږ د سنتو خلاف دی، نو هغه مو په خپل حال پرېښود) او ده ټیټوالی غوره کړ او د نفس د هوا پیروي یې وکړه! د ده مثال د هغه سپي دی، چې که حمله ورباندې وکړې، خوله خلاصوي، ژبه راباسي او ګړندی تنفس کوي که په خپل حال یې پرېږدې، بیا هم همدا کار کوي (ته وا داسې د دنیا پرستی تږی دی، چې هېڅکله نه مړېږي). دا د هغه قوم مثال دی، چې زموږ آیتونه یې دورغ وګڼل. دا کیسه (دوی) ته واوروه. نبایي فکر وکړي (او بیدار شي)!*

په بل آیت شریف کې بیا داسې فرمایي:

**﴿لَوْ أَنزَلْنَا هَٰذَا الْقُرْآنَ عَلَىٰ جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللَّهِ وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ﴾**

[حشر: ۲۱]

*که موږ دا قرآن پر غره نازل کړی وی، غر به دې د الله له وېرې خاشع او ټوټې ټوټې لیدلی وای! موږ خلکو ته داسې مثالونه بیانوو، نبایي دوی تفکر وکړي.*

**تدبر:** کله چې الله سبحانه وتعالی له انسانه غواړي چې د یوې چارې او پېښې د پایلې، عاقبت او د یوه شخص یا یوه قوم د برخلیک په اړه فکر وکړي، انسان ته وایي، چې په همغه چاره کې تدبر وکړي. یعنې تدبر قلبي (دماغي) ژور نظر دی، چې د یوې چارې د عاقبت، پایلې او برخلیک په اړه تر سره کېږي او حتمي او احتمالي پایلې یې ارزوي. مثلاً د عاد، ثمود، فرعون او... قومونو برخلیک، پایله او عاقبت، چې په قرآن کې په تفصیل راوړل شوی دی. نو الله متعال د قرآني کیسو او په هغو کې د شته مفاهېمو او دغه راز په آیتونو کې د تدبر په اړه فرمایي:

**﴿أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ أَمْ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا﴾** [محمد: ۲٤]

*ایا د قرآن په اړه تدبر نه کوي (او مطالب یې نه شېړي او غور نه ورباندې کوي) که یې پر زړونو قلفونه اچولي؟*

**﴿أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ اللَّهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيراً﴾** [نساء: ۸۲]

*ایا د قرآن په اړه تدبر نه کوي!؟ که هغه غیر د الله له لوري وای، زیات اختلاف یې پکې پیدا کاوه.*

**تذکر:** د انسان یو فطري خاصیت، چې حتی نوم یې (انسان) سرچینه ترې اخیستې، هېرونه او نسیان دی. نو کله چې انسان د یوې موضوع او پېښې په اړه معلومات او مسایل اخلي، د وخت په تېرېدو یې بېرته هېروي. په داسې حالت کې لازمه ده، چې د مخکینیو معلوماتو او مسایلو په اړه چې اخیستي یې وو، تذکر ورکړل شي او بیا-بیا ورپه یاد کړل شي. په دې اړه هم الله سبحانه وتعالی داسې لارښوونه کوي:

**﴿وَيَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ﴾** [ابراهیم: ۲۵]

*الله سبحانه وتعالی خلکو ته مثالونه راوړي، نبایي هغوی پرې متذکر (ورپه یاد) شي (او پند واخلي)!*

یا هم د الله سبحانه وتعالی دا قول:

**﴿كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِّيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ﴾** [ص: ۲۹]

***ژباړه:** دا یو برکتناک کتاب دی، چې پر تا مو نازل کړی، تر څو یې په آیتونو کې تدبر وکړي او عاقلان پرې متذکر شي!*

الله سبحانه وتعالی په قرآن کې د پرلپسې او متداومې بیدارۍ لپاره، انسان ته پر تفکر، تدبر و تذکر امر کوي او د دغو درېیو مواردو د عملي کېدو لپاره له مختلفو کیسو او مثالونو ګټه اخلي. په قرآن کې د کیسې معنی د یوه شخص یا ډلې او یا یوه قوم د نښو، اثارو او خبرونو تعقیب او ځانګړی

تسلسل دی. لکه څنګه چې یوه پېښه د یوه لنډ خبر په وسیله انتقالېدی شي؛ خو د یوه شخص، ډلې او یا یوه قوم په اړه د پرلپسې پېښو روایت یا انتقال ته کیسه یا اوږد خبر (رپوټ) ویلی شو. د کیسې د دغه تعریف د تصدیق لپاره د الله سبحانه وتعالی دا آیتونه راوړلی شو:

﴿قَالَ ذَٰلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ فَارْتَدَّا عَلَىٰ آثَارِهِمَا قَصَصًا﴾ [کهف: ٦٤]

*(موسی) وویل: «هغه هماغه وو، چې موږ غوښتل!» وروسته په همغه لار چې راغلي وو، ولاړل. یعنې؛ په داسې حال کې چې پرلپسې پخوانی نښې یې تعقیبولې.*

﴿وَقَالَتْ لِأُخْتِهِ قُصِّيهِ فَبَصُرَتْ بِهِ عَن جُنُبٍ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ﴾ [قصص: ١١]

*(د موسی مور) یې خور ته وویل: «ورپسې ورشه، پرلپسې یې تعقیب او حالت یې معلوم کړه!» هغې هم له لرې په داسې حال کې ولیدل، چې هغوی خبر نه وو.*

﴿إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْقَصَصُ الْحَقُّ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا اللَّهُ وَإِنَّ اللَّهَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ﴾ [آل‌عمران: ٦٢]

*دا د (مسیح) حق کیسه ده (او د هغه د الوهیت یا د الله د زویوالي ادعاوې یې بې اساسه دي). له یوه الله متعال پرته بل هېڅ معبود نشته او الله برلاسی او حکیم دی.*

﴿وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنبَاءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِ فُؤَادَكَ وَجَاءَكَ فِي هَٰذِهِ الْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَذِكْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ﴾
[هود: ١٢٠]

*موږ د هر یوه پیغمبر کیسه درته وکړه، تر څو یې په وسیله خپل زړه ارام کړې او اراده دې قوي شي. په دغو (خبرونو او کیسو) کې ستا او مومنانو لپاره موعظه او تذکر راغلی دی.*

خو نن اسلامي امت نه یوازې له هغو کیسو چې قرآن موږ ته بیان کړې پند نه اخلي، بلکې خپله د قرآن د کیسو واقعي مصداق ګرځېدلی. د قرآن اصلي پیغام، چې اسلامي امت باید د تفکر، تدبر او تذکر له لارې تل بیدار وساتي، اوس برعکس امت قرآن یوازې تلاوت کوي او د حسن قرائت مسابقې جوړوي، خو د قرآني آیتونو په اړه د تفکر، تدبر او تذکر هېڅ نښې نشته، بلکې اکثراً د انحطاط په اوږده او ژور خوب ویده دی.

الله سبحانه وتعالی په دنیا او اخرت کې د بشریت خورا غوره امت ته د بري راز؛ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وسیله ور زده کړ. خو د وخت په تېرېدو او په امت کې د ټولیز او هراړخیز تفکر، تدبر او تذکر د ضُعف له امله د امت تاریخي حافظه سپینه شوه او مسلمانان سلګونه ځله د هماغه دښمن په عین تکراري دامونو کې ولوېدل او ونه توانېدل چې د خپلو ماتو عوامل تشخیص کړي او په هغه کې د لوېدو د مخنیوي لپاره دویم ځل عبرت واخلي.

لازمه ده چې په دې اړه ځینې هغه قطعي چارې یادې کړو، چې قرآن موږ ته د اسلامي امت په توګه بیان کړې دي او د ایمان غوښتنه هم دا ده، چې باید هغه موارد چې قرآن یې موږ ته وایي، له هر ډول شک او تردید پرته د هغو منلو او عملي کولو ته تسلیم شو. دلته له دلایلو پرته د ځینو یادونه کوو:

- کفار؛ د هر دین، ملت او طایفې چې وي، له اسلام او مسلمانانو سره دایمي او یا بالفعل دښمنان دي؛
- هر کله چې کفار قدرت تر لاسه کړي، د مسلمانانو پر وړاندې مبارزه کوي او وربانديې تېری کوي؛
- له کفارو د بېزارۍ وجوب، له دوی سره د همکارۍ حرمت، له دوی څخه د مرستې غوښتنې حرمت او د دوی تر بیرغ لاندې د تګ حرمت؛
- پر هغه څه چې الله سبحانه وتعالی نازل کړي، د حکومت کولو وجوب؛

- پر څه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اقرار، عمل او امر کړی، هغه الهي وحی ده او د رسول الله صلی الله علیه وسلم اجتهاد نه ګڼل کېږي، مثلاً: د خلافت د تاسیس وجوب او د یوه خلیفه تر سیوري لاندې د مسلمانانو یووالی او پر یوه وخت د مسلمانانو د خلفاوو د تعدد حرمت؛
- له کفري دولتونو سره د جګړې وجوب، تر څو د اسلامي حکومت تر ولکې لاندې راشي او دا یوازې د دولتونو په اړه ده، نه د وګړو په اړه، ځکه وګړي د دین په بدلولو نه مجبورېږي؛ خو واجبه ده، چې کفري نظامونه له منځه یوړل شي؛

په همدې ترتیب ډېر نور مسایل هم شته، چې عمل وربانديې واجب شوی دی؛ خو په امت کې وینو، چې مسلمانان له دغو مسایلو سره داسې چلند کوي، لکه چې هېر کړي یې وي او یا هم هېرولو ته اړ شوي وي.

په داسې حال کې چې امت د دا ډول وضعیت د عواملو د درک او حل لارو د استنباط لپاره تفکر، تدبر او تذکر ته سخته او جدي اړتیا لري. خو دا درې مفاهیم؛ تفکر، تدبر او تذکر خپله په امت کې نه راژوندي کېږي، بلکې درې واړه د یوه ډله خلکو په وسیله، چې خپله تفکر، تدبر او تذکر ولري، د یوه سیاسي حزب د فکري او سیاسي مبارزې له لارې په امت کې بیا راژوندي کولی شو او ورپسې د اسلامي دولت په تاسیس دغې ویښوونکې پروسې ته ادامه ورکولی شو، تر څو د بشریت خورا غوره امت بېرته خپل اصلي مقام ته ورستون کړو.

خو که حقیقت په دقت او ژوره توګه مطالعه کړو، وینو چې مسلمانانو دا موارد بشپړ نه دي هېر کړي، بلکې ناوړه علماوو، سحرګرو او مکارو مطبوعاتو خلک بې لارې ته ټېل وهلي. هغوی د خپلو ویناوو او خپرونو له لارې د مسلمانانو د عقلونو پر ځای د هغوی احساسات او غرایز مخاطب ګرځولي او په موقتي ډول یې له هغوی څخه د تفکر، تدبر او تذکر وړتیا سلب کړې ده. مسلمانان له کفارو سره دښمني او د اسلام پر اساس حکومت کول درک کوي؛ خو شیطاني علما او مکارې او جادوګرې رسنۍ حقایق بدلوي او په خلکو کې افکار او مسایل داسې تبلیغ او ترویجوي، لکه څنګه چې خپله غواړي، یعنې هماغه څه چې کفار غواړي مسلمانان یې هېر کړي، هغه قصداً له خلکو هېروي او هغه موارد چې غواړي د مسلمانانو په یاد وي، هغه د خلکو په حافظو کې ساتي. په داسې حال کې چې د عامه افکارو دا ډول مدیریت ډېر سخت کار دی، خو ناوړه علما او باطلې رسنۍ د خپلو بادارانو غوښتنې د حق او حقیقت په جعلي جامه کې پوښي او عام وګړي په داسې حال کې په باطل پسې روانوي، چې ګومان وکړي چې په حق پسې روان دي.

د دغه ستونزمن او دردوونکي حالت دقیق علاج او حل لاره د امت په اوسني واقعیت کې د تفکر ادامه او له اسلامي سرچینو سره د هغو د دقیق او کره اړیکې موندل دي، تر څو د دغه حالت اصلي عوامل په دقت تشخیص او حل لارې یې په پوره دقت استنباط شي. همدارنګه د فکري او سیاسي حقایقو د موندلو دوام او د منافقینو او مجرمینو افشا کول دي، تر څو امت د دغه حالت حتمي او احتمالي عواقب احساس یا تصور کړي. که څه هم د باطل اهل په پټه هڅه وکړي، بیا هم په پټه د باطل تحکیم او ترویج ته دوام نه شي ورکولی. په پایله کې ژر یا وروسته افشا کېږي.

دا په داسې حال کې ده، چې که د باطل اهل موقتاً باطل ته د حق جامه ورواغوندي؛ مګر بیا هم د باطل چټل بوی نه شي پټولی؛ ځکه هر لور ته د حرکت په صورت کې د هماغه امراضو د سرایت سبب کېږي. که خلک هر څومره ساده هم وي، بیا هم هره خطا او ناورین چې له باطله سرچینه اخلي، بشپړ احساسوي. د دې کړنلارې ادامه په امت کې تفکر پیاوړی او د امت په چارو کې د سیاست او سرپرستۍ په ډګر کې تدبر په ورځنۍ، عملي او واقعي چاره بدلوي او خلکو ته جرات ورکوي، تر څو د اسلام پر اساس یو او بل ته تذکر وکړي او یو بل سم او متعادل حالت ته برابر کړي.

هو! حقې حل لارې ته د دعوت په ډګر کې د تفکر دوام، د امت د مصالحو په خوندي کولو کې تدبر یا د پایلو، عاقبت او برخلیک په اړه غور کول او دوی ته د حقایقو افشا کول او ورسره یو ځای د اسلام د عظمت بیانول او د هغه د حل لارو د حقیقت لپاره تذکر، امت یو ځل بیا د تفکر، تدبر او تذکر څښتن کوي، کوم چې اوسمهال یې د امت د ورک شوي حکمت یوه برخه ګڼلای شو. د دې چارې راژوندي کول پر موږ باندې ستونزې او سختۍ لازموي.

څوک باید فکر ونه کړي، چې په داسې مسیر حرکت ته به د رنګارنګ ګلونو په وسیله هرکلی وشي، بلکې د دغه مسیر لاروي باید د لارې سختۍ، تندې، لوږې او له اغزیو سره د پښو لګېدو ته چمتو وي او لاره باید په پوره صبر او استقامت سره ووهي. یوازې صبر، استقامت، تداوم او استمرار په دغه لاره کې د الله سبحانه وتعالی نصرت تضمینولی شي. نو له همدې امله باید حق بیان شي او د ظالمانو له لوري پر ستونزو لکه تکذیب، تمسخر، استهزاء او د خلکو څورونه باید بشپړه وزغمل شي. کله چې د فکري او سیاسي مبارزې په ډګر کې دا ډول صبر او استقامت وشي، په ټولنه کې د باطل د تصدیق لپاره ډېرې کمې شېبې پاتې کېږي او ډېر ژر د هر باطل حقیقت افشا کېږي او بالآخره خلک حق ته رجوع کوي. ځکه د خلکو اساسي مصلحت د دوی د فطرت پر اساس له حق سره دی او خلک هم په خپلو مصلحتونو پسې ځي، چې له موږ سره له یو ځای کېدو پرته بله هېڅ چاره نه لري، که څه هم مسیر یې اوږد هم شي او دا هغه څه دي چې د عمر، خالد، ابوسفیان، عکرمه او ... رضی الله عنهم په ژوند کې تر ټولو ښه تمثیل شوي دي.

**سیف الله مستنیر**

د حزب التحریر ولایه افغانستان د مطبوعاتي دفتر رییس